# کینیډي منځنی ښوونځی (Kennedy Middle School)

## د زده کونکي د ګرځنده تلیفون او ټیکنالوژۍ پالیسي

**د ښوونځي کال 2024-2025**

**هدف:**

لاندې پالیسي د زده کړې داسې چاپیریال ته د ودې ورکولو لپاره چمتو شوې، چې پام په کې نه اوړي او همدغه راز د تدریس پر وخت د ټولو زده کوونکو خوندیتوب او امنیت ډاډه کړل شي. په دې پالیسۍ کې دا اړینه ده چې د تدریس او یو ټولګي نه بل ته د تللو پر وختونو کې ګرځنده تلیفونونه بند او د کتابونو په بکس کې وي.

**د پالیسۍ لارښوونې**

**1. د ټیکنالوژۍ کارول (د هیډفونونو او ایربډونو په شمول)**

- ټول ګرځنده تلیفونونه او نور شخصي بریښنایي وسایل باید بند او خاموش وي او د تدریس او یو ټولګي نه بل ته د تللو پر وختونو کې باید د کتابونو په بکس کې وي.
- د تلیفونونو او نورو شخصي بریښنایي وسایلو (سمارټ واچونه، نینټینډو سویچونه، او داسې نور) کارول په ټولګیو کې منع دي. زده کونکي به APS Chromebooks ته لاسرسی لري لکه څنګه چې د درسي موخو لپاره د ټولګي په جریان کې اړتیا وي.
- هیډفونونه یا ایربډونه باید لیرې کړل شي او د کتابونو په بکس کې کیښودل شي څو د زده کونکو سره په تمرکز کولو کې مرسته وکړي. ښوونکي کولی شي زده کونکو ته اجازه ورکړي چې خپل تار لرونکي هیډفونونه/ایربډونه په Chromebooks کې د لارښوونې د موخو لپاره وکاروي.
- زده کونکي کولی شي یوازې د مرکزي دفتر څخه تلیفونونه وکړي او ترلاسه کړي. په بیړني حالت کې، زده کونکي هڅول کیږي چې خپل ښوونکي یا داسې بالغ کارمند غړي ته خبر ورکړي کوم چې به اړینه مرسته چمتو کوي (د بیلګې په توګه د مرکزي دفتر یا ټولګي څخه تلیفون وکړئ)
- ګرځنده تلیفونونه په عامو سیمو کې د غرمې د ډوډۍ په وخت کې کارول کیدی شي، مګر پر دې شرط چې زده کونکي د میوزیک اوریدلو پر مهال هیډفونونه/ایربډونه کاروي. ویډیو چیټونه، ریکارډنګ کول او د انځورونو اخیستل منع دي.
- هر زده کونکي ته د البه کرکي عامه ښوونځیو (Albuquerque Public Schools) لخوا Chromebooks چمتو کیږي. دا وسایل باید یوازې د زده کړې د ټولګي او هوم ورک لپاره وکارول شي. ښوونکي به په منظمه توګه *GoGuardian* ګوري ترڅو د *Chromebooks* سم استعمال یقیني کړي.

**2. د ښوونځي د بستې ځای پر ځای کول**

- د کتابونو بکس باید په داسې ډول تنظیم یا کیښودل شي چې د لارو د بندیدو یا احتمالي خطرونو لامل نه شي.
- زده کونکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې د دوی د کتابونو بکسونه په خوندي ډول تړل شوي ترڅو ترې څه توکي را و نه غورځیږي یا څه ګډوډي رامنځته نه کړي.
- که چیرې یو زده کونکی د مخدره توکو یا وسیلو په کارولو یا درلودلو ونیول شي، نو د زده کونکي د کتابونو د بکس امتیازات ښایي لغوه کړل شي. په دې سره دا هم کیدی شي چې هره ورځ په مرکزي دفتر کې ټولګي ته تللو دمخه د دې کتنه وکړل شي.

**3. د کارمندانو مسؤلیت / د ټولګي مدیریت**

- ښوونکي به د هر ټولګي په پیل کې زده کونکو ته یادونه کوي چې خپل ګرځنده تلیفونونه بند کړي او د خپل کتابونو په بکس کې یې کیږدي.

- د تدریسي وخت په جریان کې، ښوونکي به د څارنې او موافقت پالیسي پلې کوي او هر ډول سرغړونې به په سمدستي او مناسبه توګه حل کوي.
- دا یوه مسلکي هیله ده چې ټول ښوونکي به د ټیکنالوژۍ او په خپلو ټولګیو کې د کتابونو د بکس پالیسي د ښوونځي په ټول چاپیریال کې پرته له کومې استثنا تطبیقوي. کارمند چې کله د زده کوونکي ګرځنده تلیفون ضبط کړي، نو د دغه پیښې په اړه د خبر ورکولو لپاره د هغه کور ته زنګ وهي.

## 4. ساتل او خوندیتوب

- زده کونکي د خپلو ګرځنده تلیفونونو او کتابونو د بکس د امنیت او خوندیتوب مسؤل دي.
- ښوونځی به د کوم زیان، غلا، یا د ګرځنده تلیفونونو یا نورو شخصي توکو د زیان مسؤل نه وي.
- دا سپارښتنه کیږي چې زده کونکي ښوونځي ته د قیمتي توکو له راوړلو څخه ډډه وکړي او کله چې اړتیا وي خپل د کتابونو بکس بند او خوندي وساتي.

## 5. د نه اطاعت پایلې

- کوم زده کونکي چې د ګرځنده تلیفون او کتابونو د بکس پالیسۍ نه عملي کوي، هغوی به د ښوونځي د انضباطي کړنلارو پر اساس د دې پایلو سره مخ کیږي:
  - د ګرځنده تلیفون یا نورو بریښنایي وسایلو ضبط کیدل، کوم چې به د کینیډي د ګرځنده تلیفون پالیسۍ سره سم تعقیب کیږي او په مرکزي دفتر کې به کیښودل کیږي:
    - لومړۍ سرغړونه: زده کوونکی کولی شي د دفتر څخه ګرځنده تلیفون ترلاسه کړي
    - دویمه سرغړونه: والدین/سرپرست به یې په هماغه ورځ په پای کې دا ترلاسه کړي
    - دریمه سرغړونه: والدین/سرپرست به یې د دغه اونۍ په پای کې ترلاسه کړي
    - څلورمه سرغړونه: والدین سرپرست به یې د دغه سمسټر په پای کې ترلاسه کړي.

## 6. د والدینو/سرپرست همکاري:

- له والدینو/سرپرستانو څخه هیله لرل کیږي چې د ګرځنده تلیفون او کتابونو د بکس پالیسۍ ملاتړ وکړي او دا تقویه کړي.
- هغوی باید د خپل ماشوم/ماشومې سره د دې پالیسۍ د تعقیبولو د اهمیت په اړه خبرې اترې وکړي څو د زده کړې لپاره یو ښه او متمرکز چاپیریال چمتو کړي.
- والدین / سرپرست هڅول کیږي چې که د دې پالیسۍ په اړه اندیښنې یا پوښتنې لري، نو د ښوونځي د ادارې سره اړیکه ونیسي.
- والدین/سرپرست به د ګرځنده تلیفون د پالیسۍ بیاکتنه له ادارې سره هغه وخت وکړي کله چې د خپل زده کونکي آله ترلاسه کوي.

## 7. د پالیسۍ بیاکتنه

- د ښوونځي اداره به د دې پالیسۍ بیاکتنه وخت نا وخت کوي او ښایي د اړتیا سره سم په کې بدلون راوستل شي، څو د بدلیدونکي شرایطو او ټیکنالوژیکي د پرمختګونو سره برابر کړل شي.